امین ماما یو مېلمه دوست او مهربانه سړے دے- هغهٔ د خواري کښو د نړي والې ورځ په لړ کښې د کلي خلک یو پروګرام له راغوښتي دي- چې د خواري کښو په درناوي کښې خبرې اترې وکړي- په مېدان کښې شامیانې لګېدلي دي چې په کښې د پَردې نه یو طرف ته په کُرسو ښځې او بل طرف ته سړي ناست دي-



د چایو نه پس امین ماما مېلمنو ته ووې، زۀ ستاسو ډېره مننه کووم چې د خواري کښو په درناوي کښې مو په دې غونډه کښې ګډون وکړۀ- مونږ په خپل خواري کښ وولس ویاړ کوؤ- نن به ماشومان وار په وار ستېج له راځي او د خپلو خواري کښو میاندو پلارانو په حقله به خبرې کوي-



وړومبے شاکر راپاسېدۀ- او وویې وئیل،
مشرانو زما بابا مالي دے- سحر وختي کار
له روان شي او ماښام تیارۀ کور ته راځي- دے
خپلې ډېوټۍ له همېشه په وخت ځان رسوي-
د دۀ د خوارۍ له وجې چاپېر چل د شنو ونو
بوټواو رنګارنګ ګلونو ډک دے- مُدام مونږ
له هر ضرورت پوره کوي- زۀ په خپل بابا ویاړ
کووم- ټولو ورته لاسونه و پړقول-



بیا شازیه راغله- هغې ووې، زما دادا چمیار
دے- شلېدلے پېزار وي کۀ بېګونه یا د څرمنې
څیزونه، دادا یې پهلږ ساعت کښې داسې وګنډي
چې لکه نوي جوړ شوي دي- ما ته وایي چې ښۀ
په مینه سبق وایه چې کامیابه شې- زۀ په خپل
دادا ویاړ کووم-



ماجد راپاسېدهٔ او وويې وئيل، زما مور په
سکول کښې ترور ده- سحر مونږ له په وخت
پخلے تيار کړي او سکول ته ځان د ټولو نه اول
ورسوي- د سکول د صفايۍ، د استاذانو او
ماشومانو هر قسمه خيال ساتي- د چُټۍ نه پس
هم ټول کارونه تر سره کړي نو د ټولو وروستو
کښې چُټي کړي- زهٔ په خپله خواري کښه مور
وياړ کووم-



حمیدې ووې، زما خوږه مزدورکاره مور سحر په توره خړه پتبي ته مزدورۍ له رٔوانه شي- کهٔ متبر شوکول وي او کهٔ وَرېي یا اُورېه کرل وي اوکهٔ سبزي کرل وي- دا په پتبو کښې هر قسمه کار کوي او زمونږ پالنه کوي- په کور کښې هم زمونږ د خوراک او صفایۍ هم دا ذمه واره ده- زهٔ په خپله مور ویاړ کووم-



اخر کښې امین ماما ټولو ته مننه وویې- هغه
وئیل چې ټول کسب ګر قدرمند دي- د ملک
او قام وداني هم په دوي ده- یاسین وویې، دا
خلک د اولس د پاره هم ډېر اهم دي- مونږه د
زړۀ نه د دوي عزت کوو- ټولو په یو اواز وویې،
په دغه خواري کښو مونږ ټول ویاړ کوو-



**بنیادي سوال**

ټول خواري کښې زمونږ د پاره څومره اهم دي؟

## د لوستلو صلاحیتونه او حکمت عملۍ

| | |
|---|---|
| اواز: | مختلف ارکان |
| د ټکیو پنګه: | مهربانه، نږي والي، خواري کښو، شامیانې، درناوي، غونډه، ضرورت، رنګا رنګ، وېښتۀ، چمیار، ګنډي، کامیابه، پالنه، کسب ګر، وداني |
| ژب داني: | پېراګراف |

## لېولډ رېډر

په یو کلاس کښې د لوستلو د صلاحیت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مینځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحیتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ رېډر په نوم مختلفې قیصې لیکلې شوي دي- د دې لېولډ رېډر متن په رو رو سېوا کړے شوے دے- د لېولډ رېډر ز بنیادي مقصد ماشومان خپلوا که لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېولډ رېډر 8 سېټونه تیار کړي شوي دي- د هر لېولډ رېډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر یو لېولډ رېډر په شاتني مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپایي په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کۀ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څۀ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښووني

د وړومبيو درېو مخونو نه پس لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. امين ماما د محنت کشو د عالمي ورځ په خوشحالۍ کښې څهٔ وکړل ؟
2. ماشومان په سټېج د چا په حقله خبرې کوي؟

د نيمې قيصې نه پس لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. د شاکر بابا څهٔ کار کوي؟
2. کهٔ چرې نايان نهٔ وي نو خلک به څهٔ کوي؟

د قيصې په اخره کښې لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. ماجد د خپلې مور په حقله څهٔ ووئيل؟
2. ستاسو ګېرچاپېره خلک څهٔ څهٔ کارونه کوي؟
3. ټول خواري کښ زمونږ د پاره ولې اهم دي؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بېن الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده-
دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار
کړې دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نهٔ ده چې دا د يو ايس ايډ
يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-